


Ketabton.com

# د کرونا ویروس لومړۍ څپه او د هند اقتصاد

راټولونکی: رفیع الله "سهر"

6/20/2021

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کرونا ویروس او د هند اقتصاد

د نن څخه پوره **یو کال، څلور میاشتې** او **درې اونۍ** مخکې د کرونا ویروس لومړنۍ قضیه د **هندوستان** هیواد په کریلا نومي ایالت کې د یو شل کلن میرمنې په وجود کې مثبت ثبت شو. دغه میرمن د **2020 م کال** د **جنوري** د میاشتې په **23 نیټه** د **چین هیواد** د **وهان له ښار** څخه چیرې چې دغه ناروغي په لومړۍ ځل رامنځ ته شوی، راستون شوی وو. د جنوري د میاشتې له **27 نیټې** څخه تر نن ورځې پورې په یاد هیواد کې د کرونا ویروس ټول ټال **29.9 میلیونه قضیې** ثبت شوې دي چې له دې جملې څخه یې **28.7 میلیونه تنه** ناروغان بیرته ښه شوي دي او څه د پاسه **386000 تنه** مړه شوي دي او تر اوسه پورې تقریباً **260 میلیونه تنه** واکسین شوي دي. لکه څنګه چې تاسې پوهیږئ چې دغه ویروس یو لوی انساني فاجعه رامنځ ته کړې ده، خو ددې فاجعې ترڅنګ یې لوي او واړه اقتصادي ځواکونه هم زیانمن کړي دي چې لدې جملې څخه یو هم د **هندوستان** هیواد دی. ددې هیواد د اقتصادي بحران قصه لږ څه مختلف دی چې په دې راپور کې په لاندې ډول څیړل شوی دی.

د پوهانو له نظره د کرونا ویروس بحران د **1930 م کال** د بحران څخه هم خطرناک پیش بیني شوې ده. هره ورځ څیړونکي او مربوطه ادارې چې د دغه ناروغي په هکله کوم راپور نشروي، هغه په مختلفو سیمو کې د اقتصادي رکود د زیاتوالي ښودنه کوي.

د **GDP د ودې نرخ، انفلاسیون** او د **وزګارتیا** نرخ هغه درې لوي اقتصادي فکتورونه دي چې په دې راپور کې د همدې فکتورونو په نظر کې نیولو سره د کرونا ویروس اقتصادي تأثیرات په هندوستان هیواد باندې څیړل شوی دی.

**نوټ: په نوموړي هیواد کې مالي کال د اپریل په میاشت کې شروع کیږي او د مارچ په میاشت کې ختمیږي.**

**مثلاً: د 2020 مالي کال د 2019 م کال د اپریل له میاشت څخه پیلیږي او د 2020 م کال د مارچ په میاشت کې ختمیږي بیا د 2021 مالي کال د 2020 م کال د اپریل له میاشت څخه پیلیږي او بیرته د 2021 م کال د مارچ په میاشت کې پای ته رسیږي.**

## د GDP د ودې نرخ

د **Business Standards** د ویبپاڼې د یو راپور له مخې په **2019 م کال** کې د دې هیواد د **GDP** د ودې نرخ **4.2%** وه چې د ټولې **GDP** ارزښت یې تر **2.869 ټریلیونه امریکایي ډالرو** ته رسیده. بیا د **2020 مالي کال** په اوله او دوهمه ربع **(یعني د 2019 م کال په اپریل، مۍ، جون، جولاي، آګسټ، سپټمبر میاشتو)** کې د ودې دغه نرخ **4%** ته راټیټ شو.

د **هندوستان** د **احصائیې وزارت** وایي چې د **2020 مالي کال** په دریمه ربع کې د کرونا ویروس د ظهور سره سم د دې هیواد د **GDP** د ودې نرخ **3.3%** ته راټیټ شو چې علت یې په یو شمیر تولیدي واحدونو او کاروبارونو باندې د محدودیتونو وضع کول وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د **GDP** د ودې په نرخ کې دغه کموالی په تدریجي شکل دوام درلود، تردې چې د **2020 مالي کال** په څلورمه ربع کې له **3.3%** څخه **3%** ته راټیټ شو. خو د **2021 مالي کال** په لومړۍ ربع کې کله چې په یو ناڅاپي شکل پدې هیواد کې د کرونا ویروس د مثبتو قضیو شمیر زیات شو او تقریباً ټول هیواد قرنطین شو او هر ډول کاروبارونه ددې وبا د مخنیوي په منظور بند او وتړل شو نو یو دم ددې هیواد د **GDP** د ودې په نرخ کې **24.4%** کموالی راغی چې دا یو لوی زیان وو چې دې هیواد ته ورسید. بیا د **2021 مالي کال** په دوهمه ربع کې د کموالی دغه اندازه **7.4%** ته راښکته شو او د پخوا په پرتله وضعیت یو څه ښه وو، لدې وروسته د **2021 مالي کال** په دریمه ربع **(د 2020 م کال په اکتوبر، نوامبر او ډسمبر میاشتو)** کې وضعیت لږ نور هم ښه شو او زیات شمیر محدودیتونه له کاروبارونو او تولیدي واحدونو څخه لیرې شو او د **GDP** د ودې نرخ له منفي حالته راووتو او په ډیره کمه اندازه یعني **0.4%** زیاتوالی پکې رامنځ ته شو.

له دې وروسته د هند حکومت داسې پیش بیني کړې وه چې د **2021 مالي کال** په څلورمه ربعه او د **2022 مالي کال** په لومړیو ربعو کې به د کرونا ویروس د دوهم او دریمې څپې له کبله ددې هیواد د **GDP** د ودې نرخ به بیا کموالی کوي او دغه کموالی تر **8%** پورې اټکل شوې وه او د ټولې **GDP** ارزښت **195.86 ټریلیونه هندي روپۍ** ښودل شوې وه پداسې حال کې چې دغه اندازه په **2019-20 کال** کې **203,51 ټریلیونه هندي روپۍ** وه دغه حالت بیا هم په **GDP** کې **3.1%** کموالی ښايي.

- ❖ د **2020-21 کاله** پورې پدې هیواد کې د زراعتی سکتور وده **3%** اټکل شوې ده پداسې حال کې چې دغه اندازه په **2019-20** کې **4.3%** وه.
- ❖ د **2021 مالي کال** په جریان کې د دې هیواد د تولیدي سکتور په وده کې **8.4%** کموالی اټکل شوې ده.
- ❖ پدې کال کې د برقونو په برخه کې **1.8%** وده اټکل شوی دی.

په ټوله کې په خدماتي سکتور، تجارت، هوټلونه، ترانسپورت او داسې نورو برخو کې تر 8% کموالی اټکل شوی دی.

د **Christophe Barraud** په نوم یو اقتصاد پوه په خپل ټویټر پاڼه لیکلي وو چې په هندوستان کې د کرونا وبا د موجوده حالت دوام به ددې هیواد د **GDP** د ودې په نرخ کې تر **10,2%** پورې کموالي راولي او د نوموړي له نظره علتونه یې هم د کرونا ویروس د قضیو زیاتوالی، د دې هیواد د روغتیایي سیستم سقوط، د واکسینیشن ضعیفه کچه او د حکومت له لوري د مؤثرې ستراتیژۍ نشتون دی.

**نوټ: مونږ او تاسې ولیدل چې د 2021 کال په مارچ، اپریل، مۍ او جون میاشتو کې دغه هیواد د کرونا وبا له کبله یو ځل بیا سخت وځپل شو، تردې چې روغتیایي سیستم یې مکمل سقوط شو، د مړو تعداد دومره زیات شو چې د هغوي د سوځولو لپاره په کافي اندازه لرګي نور موجود نه وو، ټول هیواد قرنطین شو، په روغتونونو کې د مریضانو د بستر کولو لپاره نور ځای نه وو تر دې چې خپل مریضان یې په جوماتونو او د مسلمانانو په عبادت ځایونو کې بستر کړل او یو لوي انساني ناورین رامنځ ته شو او دمګړۍ هم دوام لري خو د پخوا په پرتله په ډیره کمه اندازه وضعیت نورمال شوی نو د دمګړۍ په هکله دقیق حقایق او ارقام وجود نلري. پدې مقاله کې ټول حقایق او ارقام د تیرکال په هکله دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د 2020 -21 لپاره د هندوستان د GDP د ودې نرخ په هکله د ځینو ادارو او ایجنسیانو پیش بیني:**

| شمیره | اده یا ایجنسي | د راپور نیټه | د هند د GDP د ودې نرخ په اړه پیش بیني |
|---|---|---|---|
| 1 | ICRA (Noronha, 2020) | 7 April 2020 | 2% |
| 2 | Fitch (PTI, 2020) | 10 April 2020 | 2% |
| 3 | ADB (Noronha, 2020) | 3 April 2020 | 4% |
| 4 | S&P (Business Line, 2020) | 23 March 2020 | 5.2% |
| 5 | The UN Economic and Social Survey of Asia and the Pacific (ESCAP) 2020, (PTI, 2020) | 9 April 2020 | 4.8% |
| 6 | Goldman Sachs (The Economic Times, 2020) | 8 April 2020 | 1.6% |
| 7 | India Ratings (Sinha, 2020) | 31 March 2020 | 3.6% |
| 8 | Moodys (ET Bureau, 2020) | 27 March 2020 | 2.5% |
| 9 | CRISIL (PTI, 2020) | 20 March 2020 | 5.2% |
| 19 | Economic Research (NCAER) (The Economic Times, 2020) | 21 February 2020 | 5.6% |

## انفلاسیون

د هند  هیواد درې لوي اقتصاد پوهان هر یو **Vikas Barbate**، **Rajesh N. Gade** او **Shirish S. Raibgkar** لخوا یوه څیرنه په **2020 م کال** کې ترسره شوې ده چې پکې د کرونا ویروس اقتصادي تأثیرات د هند په اقتصاد باندې توضیح شوی دی. نوموړي اقتصاد پوهان په هغې څیړنه کې د کرونا وبا اغیزې د انفلاسیون په نرخ باندې په لاندې ډول تشریح کړی دی:

**لومړی: د لنډ مهال لپاره تخمین : - 2021 – 2020**

**Vikas Barbate** وایي چې درې فکتورونه کولای شي چې په لنډ مهال کې انفلاسیون کنټرول کړي او هغه درې فکتورونه په لاندې ډول دي:

- د خام تیلو د قیمتونو غورځیدل
- د کرونا وبا له کبله په تقاضا کې رامنځ ته شوی کموالی
- د دولت هڅې د لومړنیو ضروروتونو د پوره کولو په برخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې دمه حکومت د مصرف کوونکو لپاره د تیلو په قیمتونو کې کوم کموالی ندی راوستی، پطرول او ډیزل اوس هم په همغه پخواني نرخ خرڅیږي. دا یو داسې څه دي چې دولت یې په لاس کې لري او کولای شي چې د پالیسۍ د یوې وسیلې په توګه ترې کار واخلي او انفلاسیون پرې کنترول کړي خو په هغه صورت کې چې کله د انفلاسیون نرخ له خپل معقول حد نه واوړي. سربیره پر دې تقاضا چې له مخکې نه له ماتې سره مخ شوی دی یعني تقاضا له پخوا نه ددې وبا له کبله کمه شوې ده. نو په هغه صورت کې چې د انفلاسیون نرخ لوړیږي نو دولت کولای شي د تقاضا په زیاتولو سره په لنډ مهال کې انفلاسیون کنټرول کړي. د دې ترڅنګ د کرونا وبا په جریان کې دولت مختلفي مرستې له خپل ملت سره پیل کړي بالخصوص د غذایي موادو په برخه کې. د ښاغلي **Vikas Barbate** په آند د دولت دا عمل هم کولای شي چې په شکل د اشکالو انفلاسیون کنترول کړي. د **2020 – 21 م کال** په اوایلو کې پدې هیواد کې د انفلاسیون نرخ **5-6%** پورې وه.

**دوهم: د اوږود مهال لپاره تخمین: - 2025 – 2024**

د دې هیواد په اقتصاد باندې د کرونا وبا اوږد مهاله اغیزې د اقتصادي ودې د مرحلې په څرنګوالي پورې اړه لري. که چیرې د ودې مرحله په ضعیفه کچه کې وه نو دا به په اقتصاد باندې له بده مرغه ډیر ژور تأثیرات ولري ځکه چې د مصرف کوونکو له لوري د ذخیره شویو اجناسو او خدماتو مصرف کول به د دې باعث شي چې له تولیدونکو سره په ذخایرو کې به کموالی راشي او د قرنطین له وجې به په کافي اندازه تولیدي ظرفیت هم نه وي موجود. د دې ترڅنګ د دولت له لوري د غذایي موادو مرسته هم خپل معین حد لري او کله چې دغه حد ته ورسیده نو دا مرستې هم بندیږي نو بیا پدې وخت کې د انفلاسیون په نرخ کې تغیرات به د عرضې په ځنځیر پورې اړه لري.

پدې برخه کې درې ډوله پیش بیني شوې ده:

- ❖ که چیرې د ودې مرحله په لوړه یا اعظمي کچه کې وه نو په **2025 – 2024** کلونو کې به د انفلاسیون نرخ تر **8%** پورې لوړ شي پداسې حال کې چې په **2021 – 2020** کې همدغه نرخ د **6%** په شاوخوا کې وه.
- ❖ که چیرې د ودې مرحله په متوسطه کچه کې وه نو ممکن د انفلاسیون دغه نرخ **10%** ته لوړ شي پداسې حال کې چې اوسمهال د **6%** په شاوخوا کې ده.
- ❖ که چیرې د ودې مرحله په بیخي ضعیفه کچه کې وه نو د انفلاسیون نرخ به په **2025 – 2024** کلونو کې حتی تر **14%** پورې لوړ شي چې دا د یو ډیر بد حالت ښودونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په راتلونکو 5 کلونو کې په هند د انفلاسیون د نرخ په اړه د پیش بیني شویو ارقامو ډیاګرامیک شکل:**





**Figure 12.** India's Inflation Rate Forecast up to 2024–2025

د **India Spend** ویبپاڼې یو تن کارمند **Rohit Inani** د **2021** م کال د جنوري د میاشتې په **21** نیټه یو راپور خپور کړی دی چې پکې د یو ریکشا چلوونکي **Gaurav Kumar Sharma** د ژوند کیسه یې رانقل کړې دی او داسې لیکي:

**Gaurav Kumar Sharma** چې په خپل کورنۍ کې یوه میرمن او څلور لورګاني لري په نوی ډهلي کې ریکشه چلوي چې دا ریکشه یې هم خپله نده بلکې د بل چا ده او نوموړی یې په دنده چلوي او د خپل ژوند ګوزاره پرې کوي. په هند کې چې کله د کرونا وبا ظهور وکړ نو په لومړیو کې د دې ویروس د مخنیوي په منظور ټول هیواد د دوو میاشتو لپاره قرنطین شو او ټول کاروبارونه بند شول نو د ښاغلي شرما ژوند تریخ شو ځکه چې نوموړي بل کوم کمال نه درلود بلکې یوازې همدا ریکشه یې چلوله او د کور ټول مصارف یې پرې پوره کوله. کله چې حالات لږ لږ ښه شو او مارکیټونه او بازارونه په مشروط ډول بیرته خلاص شول نو بیا هم نوموړی راضي نه وو ځکه چې د هیواد په اقتصادي وضعیت کې د خلل د رامنځ ته کیدو له وجې قیمتي ډیره شوی وه یعني د اجناسو او خدماتو قیمتونه لوړ شوي وو.

د **2020** م کال د **اکتوبر** په میاشت کې د هیواد په زیاترو سیمو کې د ضروري سبزیجاتو لکه **رومیان، ګلپیان** او **آلوګانو** قیمتونه د پخوا په پرتله بیخي زیات شوي وو چې علت یې هم د عرضې په ځنځیر کې خلل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښاغلی شرما** وايي چې زه له سهار نه تر ماښامه پورې ريکشه چلووم او پدې ورځو کې د تيل د مصارفو او د ريکشې مالک ته د معيني اندازې کرايې وروسته له **200** څخه تر **250** هندي روپۍ ګټم. نوموړی وايي چې زه يو ورځ د **2020** کال د ډسمبر په مياشت کې د نوي ډهلي جنوبي برخې **RK Puram** سيمې ته نژدې د **Muhammadpur** منډې يې ته ولاړم چې هلته يوازې د يو کيلو روميانو قيمت **80** هندي کلدارې وې، په هغې ورځ زه ډېر حيران شوم او له ځانه سره مې وويل چې نوره ګوزاره ډېره ګرانه شوه. په هغه ورځ ما هيڅ سودا وانخسيته او خالي کور ته راغلم. له هغې ورځې راهيسې مونږ بيخي سبزيجات ونه خوړل ځکه چې د اخيستلو توان يې نور له ما سره نه وو او تر ډېره وخته پورې مونږ له وريجو سره ګوزاره کوله او ځينې وختونه مو پراټې خوړلې، ځکه چې نسبت نورو غذايي توکو ته په بازار کې ارزان تماميدل. زما هيله دا ده چې دا قيمتونه دې ژر تر ژره بيرته راټيټ شي او که داسې ونه شي نو زمونږ غوندې غريبو خلکو لپاره يوازې يوه لاره پاتې چې مونږ مړه شو او له دې جنجاله خلاص شو.

د **Gaurav Kumar Sharma** دغه د سختيو او ستونزو ډکه کيسه د **ميليونونو** غريبو او کم عايد لرونکو کورنيو او خلکو له لورې په **انټرنيټ، ورځپاڼو، تلويزيونونو، راډيو ګانو** او مختلفو برخو کې نشر شو.

په اوس وخت کې د انفلاسيون د نرخ لوړيدل بالخصوص د غذايي موادو په قيمتونو زياتوالی ددې باعث شوی چې پدې هيواد کې ميليونونونه کورنی غذايي موادو ته لاسرسی نه لري او د اقتصاد پوهانو په عقيده د دې حالت دوام ډيرې زياتې ستونزې زيږوي لکه **فقر** او **غربت، د ماشومانو د سوئ تغذيې ستونزه، صحي ستونزې** او داسې نور...

## د وزګارتيا نرخ

د **2021** م کال په **جنوري** مياشت کې **هندوستان** کې د وزګارتيا نرخ له **6%** لږ څه لوړ وو چې د تير کال **(2020)** په پرتله کمه وه. د کرونا ويروس د مخنيوي په موخه د ټول هيواد قرنطين کيدل او د کاروباري نهادونو بنديدل د دې هيواد په اقتصادي فکتورونو باندې ډيرې ژورې اغيزې وارد کړې چې يو له دې فکتورونو څخه د **وزګارتيا نرخ** هم دی چې متأثره شوی دی. د **2020** م کال په **اپريل** مياشت کې پدې هيواد کې د وزګارتيا نرخ **24%** ته لوړ شو چې علت يې هم په **تقاضا** کې کموالی او د کمپنيو په بنديدلو سره په کارې قوه کې خلل رامنځ ته کيدل وو. د دې ويروس او قرنطينونو تر ټولو زيات ويجاړونکې اغيزې د دې هيواد په هغه سيمو کې زيات ترسترګو کيږي چې له اقتصادي پلوه بيخي وروسته پاتې دي يعنې صحي خدماتو او دېته ورته نورو سرچينو ته لاسرسی نه لري چې دا حالت د دې باعث شو چې هندي دولت مختلف پروګرامونه او کمپاينونه په لار واچوي تر څو پدې سيمو کې زيانمن شوي کورنيو سره مرسته وکړي او د هغوي لاسنيوی وکړي. له دې پروګرامونو څخه يو هم د **Pradhan Mantri Garib Kalyan Yojana** په نوم ده چې تقريباً د **312 ميلياره هندي روپيو** په مصرفولو سره يې **331 ميليونه** ګټه وړنکي درلودل.

يعنې دغه پيسې يې د ټولنې له مختلفو طبقو لکه **ښځو، مزدورکارانو، دهقانانو** او نورو **غريبو خلکو** سره يې د مرستې په شکل په مصرف ورسول. له هغې وروسته د **مې مياشتې** په نيمايي کې د کوچنيو متضررو کاروبارونو سره يې هم د **مالي مرستو** لړۍ پيل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د 2020 م کال د جنوري میاشتې څخه د 2021 م کال تر جنوري میاشتې پورې د وزګارتیا په نرخ باندې د کرونا ویروس د مخنیوي په پار د قرنطین اقتصادی اغیزې په لاندې جدول کې تاسې ته وړاندې شوی دی:**

| نیټه | د وزګارتیا نرخ |
|---|---|
| January 2020 | 7.22% |
| February 2020 | 7.76% |
| March 2020 | 8.75% |
| April 2020 | 23.52% |
| May 2020 | 21.73% |
| June 2020 | 10.18% |
| July 2020 | 7.4% |
| August 2020 | 8.35% |
| September 2020 | 6.68% |
| October 2020 | 7.02% |
| November 2020 | 6.5% |
| December 2020 | 9.06% |
| January 2021 | 6.53% |

د **CMIE** یا **د هندوستان د اقتصاد د څار ادارې** د یو تازه راپور له مخې د **2021** م کال په **فبروري میاشت** کې د **وزګارتیا نرخ** پدې هیواد کې **6.9%** ثبت شوی وو پداسې حال کې چې د تیر کال **(2020)** په همدې **فبروري میاشت** کې دغه نرخ **7.8%** وو نو د تیر کال په نسبت ښه وو. پورتني معلومات ښایي چې د **وزګارتیا نرخ** د **2020** م کال د **اپریل** په **میاشت** کې خپل هغه لوړ حد **23.5%** ته رسیدلی وو او بیا په **مې میاشت** کې په **21.7%** کې پاتې شو خو له هغې وروسته د وضعیت په **نورمال** کیدو سره بیرته د **وزګارتیا نرخ** راټیټ شو لکه څنګه چې تاسې ولیدل په **جون میاشت** کې **10.2%** بیا د **جولاي میاشت** کې **7.4%** ته راټیټ شو. خو بیا هم ورو ورو بیرته دغه **نرخ** د **آګست** په **میاشت** کې لوړ **8.3%** شو او د **سپټمبر** په **میاشت** کې بیرته راټیټ **6.8%** شو چې علت یې هم د کاروبارونو بندیدل او خلاصیدل و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اقتصاد پوهان** وايي چې د **CMIE** اداري ارقام د **2021** کال تر **جنوري مياشتې** پورې د **هند** د **حکومت** له لورې د **وزګارتيا** په **نرخ** کې ښه والی (کموالی) ښايي، خو د دې نرخ په همدې شکل کم ساتلو لپاره **ثبات** ته ضروت دی. يعني دا نرخ بايد د همدې ارقامو په شاوخوا کې ښکته او پورته شي او دا کار په **توليدي** او **خدماتي سکتورونو** کې د پرمختګ او ثبات په رامنځ ته کيدلو سره کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مأخذونه


1. Ministry of statistics India.
2. Business Standards.
3. Rohit Inani/ India Spend (Indiaspend.com).
4. The Economic Times.
5. The India Times.
6. Statista Research Department/ Economy and Politics/ Economy.
7. Vikas Barbate, Rajesh N. Gade, Shirish S. Raibgkar/ Covid 19 and Its Impact on the Indian Economy.
8. Twitter.com/ Christophe Barraud.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**